سید عبیدالله نادر

۲۰۲۱/۰۴/۰۶

# چې په اوښکو کې لمبېږم

د خودئ مـــــقام ته هغه وخت رسېږم
سر تر پایه چې په اوښــکو کې لمبېږم

چې ځان وګورمـــه کله د پېښو خاورې
بې اختیاره، په خپل حال باندې ژړېږم

کله ځان راڅخه ورک شي په لټون کې
یو ګړی چې په مانئ کې، زه ډوبـېـږم

عاجزی چې مـخـامخ، سترګو ته راشي
په مــــــحفل کې لکه شمع ویـلـی کېږم

دا چې زه یم پـــه ټول عمر ژړه غوټۍ
د فانی دنیا په مـــــــــکر ښه پوهېږم

صـــــــاحبدل په دې خبرو باندې رسی
د غـــــــــافل په نظر، هسې زه ویېږم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ